# الاحزاب

**مدنی سورة ۷۳ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ٱتَّقِ ٱللَّهَ وَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَۗ إِنَّ ٱللَّهَ
كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ١

**ای پیغمبره!( لکه څنګه چې تر اوسه ستا معمول دی بیاهم) په الهی تقوی ثابت او ټینګ پاتې شه او( د الله تعالی د احکامو په خلاف )د کافرانو او منافقینو خبره مه منه( د دوی حیلې او دسیسې تاته هیڅ زیان نشی رسولی). بیشکه چې الله تعالی (په ټولو چارو او حالاتو) پوه او د حکمت څښتن ذات دی( او ټول احکام یې په حکمت او مصلحت ولاړ دی).**

وَٱتَّبِعۡ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعۡمَلُونَ
خَبِيرٗا ٢

**او د هغو هدایاتو او احکامو پیروی کوه چې د رب له لوری دې تاته وحې کیږی. بیشکه چې الله تعالی ستاسو په کړنو ډیر ښه خبر دی.**

وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ٣

**او تل په الله تعالی توکل کوه( د ټولو چارو د سمون او سمبالښت لپاره) یوازې الله تعالی کفایت کوی.**

مَّا جَعَلَ ٱللَّهُ لِرَجُلٍ مِّن قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِۦۚ وَمَا جَعَلَ أَزْوَٰجَكُمُ ٱلَّٰٓـِٔي
تُظَٰهِرُونَ مِنْهُنَّ أُمَّهَٰتِكُمْۚ وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَآءَكُمْ أَبْنَآءَكُمْۚ ذَٰلِكُمْ
قَوْلُكُم بِأَفْوَٰهِكُمْۖ وَٱللَّهُ يَقُولُ ٱلْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي ٱلسَّبِيلَ ٤

( لکه څنګه چې) الله تعالی د هیچا په بدن کې دوه زړونه، نه دی ایښې( همدا ډول یې نه چاته دوه پلرونه ورکړی او نه دوه میندې) او نه ستاسو میرمنې ستاسو د میندو پحیث منی، چې تاسو یې د ظهار( د جاهلی فرهنګ په نوم په ځان حراموئ او د میندو خطاب ورته کوئ) او نه( الله تعالی) هغه هلکان چې تاسو په ځوی والئ نیولی، ستاسو د واقعی ځامنو په حیث ګڼی. دا ټولې ستاسو د خولې( باطلې او بې بنسټه) خبرې دی. د الله تعالی خبره تل حق ده او تاسو ته د هدایت د لارې لارښوونه کوی( هغه لار چې تاسو د نیکمرغئ پړاو ته رسوی).

ٱدْعُوهُمْ لِءَابَآئِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِندَ ٱللَّهِۚ فَإِن لَّمْ تَعْلَمُوٓا۟ ءَابَآءَهُمْ
فَإِخْوَٰنُكُمْ فِي ٱلدِّينِ وَمَوَٰلِيكُمْۚ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيمَآ
أَخْطَأْتُم بِهِۦ وَلَٰكِن مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوبُكُمْۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا
رَّحِيمًا ٥

په ځوی والئ نیولی هلکان، د هغوی اصلی پلرونو ته منسوب کړئ او دا د الله تعالی په وړاندې ډیر عادلانه کار دی، نو که یې پلرونه نه پیژنئ بیا ستاسو دینی ورونه او ملګری دی. او په تاسو باندې (د هغو انتسابونو) ګناه نشته چې په سهوه او خطا مو څوک د خپل ځوی په نوم یاد کړی وی، خو که قصداً او عمداً او د زړه په مینه څوک د خپل ځوی په نوم وبلئ،( نو الله تعالی به درنه پوښتنه کوی) او الله تعالی ښښونکی او مهربان ذات دی( خطا او نسیان درته ښښی).

ٱلنَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِٱلْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْۖ وَأَزْوَٰجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمْۗ وَأُوْلُواْ
ٱلْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ مِنَ
ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ إِلَّآ أَن تَفْعَلُوٓاْ إِلَىٰٓ أَوْلِيَآئِكُم مَّعْرُوفًاۚ
كَانَ ذَٰلِكَ فِي ٱلْكِتَٰبِ مَسْطُورًا ٦

د مؤمنانو( یو لوی خصوصیت دا دی چې) پیغمبر ورته له خپل ځانه زیات محترم او ارزښتمند دی او د هغه میرمنو ته د خپلو میندو( امهات المؤمنین) خطاب کوی. او د الهی کتاب له مخې، نسبی خپلوان( په میراث کې) له مؤمنانو او مهاجرینو څخه زیات مستحق دی( او مؤمنین او مهاجرین د دې حکم د اعلان نه وروسته، د ایمان او هجرت په اساس د نورو مسلمانانو په میراث کې قانونی برخه نشی اخستی) البته که د دوستۍ او ملګرتیا او ښیګڼې په توګه ورته په میراث کې د څه برخې د ورکولو لپاره وصیت کوئ نو کوم حرج نشته، او دا ټولې خبرې د الله تعالی په کتاب کې ثبت دی.

وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِيثَٰقَهُمْ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٍ وَإِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ
وَعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَۖ وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظًا ٧

او( یاد کړه) هغه وخت چې مونږ له ټولو انبیاو نه دا عهد واخست (چې دوی به پخپله هم، یوازې زما عبادت کوی او هم به د توحید د دعوت لپاره خپل رسالت په پوره او احسنه توګه سرته ورسوی او  هم مو د همدغه مسؤلیت د سرته رسولو لپاره د اولوالعزمو پیغمبرانو په حیث) له تا، او له نوح، ابراهیم، او موسی او عیسی ابن مریم ټولو نه  ټینګ تعهد واخست.

لِّيَسْـَٔلَ ٱلصَّٰدِقِينَ عَن صِدْقِهِمْۚ وَأَعَدَّ لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا أَلِيمًا ٨

تر څو( الله تعالی د قیامت په ورځ) له رښتیا ویونکو څخه د دوی د صدق او رښتیا ویلو پوښتنه وکړی( چې د رسالت او توحید  دعوت یې په څه ډول سرته رسولی او د دغه دعوت په وړاندې د  هغوی د امتونو غبرګون څه و؟) او د کافرانو او منکرینو لپاره دردوونکی عذاب تیار شوی دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ جَآءَتۡكُمۡ جُنُودٞ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا وَجُنُودٗا لَّمۡ تَرَوۡهَاۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرًا ٩

ای د ایمان خاوندانو! د الله تعالی نعمت چې په تاسو يې لوړولی یاد ساتئ، کله چې ( په پنځم هجری کال د احزاب یا خندق په غزا کې چې د عربو د مختلفو قبایلو مشترک دولس زره کسیز) مسلح لښکر( ستاسو د تباه کولو لپاره) راروان شو، نو مونږ( د هغوی د جرړو د ویستلو لپاره تباه کوونکې سیلۍ او داسې لښکر درواستاوه چې تاسو په سترګو نه لیده. بیشکه چې الله تعالی ستاسو د ټولو له کړنو( او د کافرانو له دسیسو او نظامی پلانونو ) څخه ډیر ښه خبر دی.

إِذۡ جَآءُوكُم مِّن فَوۡقِكُمۡ وَمِنۡ أَسۡفَلَ مِنكُمۡ وَإِذۡ زَاغَتِ ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَبَلَغَتِ ٱلۡقُلُوبُ ٱلۡحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِٱللَّهِ ٱلظُّنُونَا۠ ١٠

( یاد کړئ چې کله د کفارو لښکرې) له پورته( د ختیځ لوری) او ښکته( د لویدیځ لوری ستاسو په نظامی سنګر مدینه منوره باندې) راچاپیرې شوې او هغه وخت چې سترګې( له ویرې او دهشته) خړې شوې او زړونه خولې ته راغلل او د الله تعالی په باب مو( ډول ډول) ګومانونه کول.

هُنَالِكَ ٱبۡتُلِيَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَزُلۡزِلُواْ زِلۡزَالٗا شَدِيدٗا ١١

همدلته مؤمنان تر ازمیښت لاندې راغلل او له سخت تزلزل او اضطراب سره مخامخ شول.

وَإِذۡ يَقُولُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ مَّا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ إِلَّا غُرُورٗا ١٢

او منافقینو او هغو کسانو چې زړونه يې( د کمزوری ایمان) په ناروغۍ اخته وو، وویل: الله او رسول مونږه د فتحې او برۍ په وعدو تیرویستلی یو.

وَإِذۡ قَالَت طَّآئِفَةٞ مِّنۡهُمۡ يَٰٓأَهۡلَ يَثۡرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمۡ فَٱرۡجِعُواْۚ
وَيَسۡتَـٔۡذِنُ فَرِيقٞ مِّنۡهُمُ ٱلنَّبِيَّ يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوۡرَةٞ وَمَا هِيَ بِعَوۡرَةٍۖ إِن
يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارٗا ١٣

او د هغوی یوې ډلې وویل: ای د یثرب (مدینی) خلکو( د جګړې ډګر) ستاسو د پاتې کیدو لپاره مناسب ځای نه دی نو شاته لاړ شئ، او یوې ډلې له پیغمبر نه د بیرته تلو اجازه غوښته او ویل یې: کورونه مو بې سرپرسته دی، په داسې حال کې چې کورونه یې بې سرپرسته نه وو، خو هدف یې صرف د جګړې له ډګره تیښته وه.

وَلَوۡ دُخِلَتۡ عَلَيۡهِم مِّنۡ أَقۡطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُواْ ٱلۡفِتۡنَةَ لَأٓتَوۡهَا وَمَا تَلَبَّثُواْ
بِهَآ إِلَّا يَسِيرٗا ١٤

( منافقین د تیښتې لپاره حیلې او بهانې جوړوی خو حقیقت دا دی چې که دوی په مدینه کې هم وی) او له کوم لوری وربانديې دښمنان حمله راوړی او دوی ته د فتنې جوړولو امر وکړی( چې بیرته مشرکان شی او د مؤمنانو په ضد وجنګیږئ) نو دوی به بې له ځنډه( د دښمن قومانده ومنی او د مؤمنانو په ضد جګړې ته به راودانګی).

وَلَقَدۡ كَانُواْ عَٰهَدُواْ ٱللَّهَ مِن قَبۡلُ لَا يُوَلُّونَ ٱلۡأَدۡبَٰرَۚ وَكَانَ عَهۡدُ ٱللَّهِ
مَسۡـُٔولٗا ١٥

او دوی خو پخوا له الله تعالی سره وعده کړې وه چې (د جګړې له محاذه به) نه تښتی ( خو نن خپلې وعدې ماتوی) او له همدې امله، له الله تعالی سره د وعدې ماتولو مسئول ګڼل کیږی.

قُل لَّن يَنفَعَكُمُ ٱلۡفِرَارُ إِن فَرَرۡتُم مِّنَ ٱلۡمَوۡتِ أَوِ ٱلۡقَتۡلِ وَإِذٗا لَّا
تُمَتَّعُونَ إِلَّا قَلِيلٗا ١٦

ووایه که د مرګ یا وژنې (له ویرې) تښتئ نو تیښته درته هیڅ ګټه نه لری، (ځکه د دنیا له یوه لنډ او ژر تیریدونکی ژوند) له لږ څه مزو چرچو نه زیات به څه ترلاسه نه کړئ.

قُلْ مَن ذَا ٱلَّذِى يَعْصِمُكُم مِّنَ ٱللَّهِ إِنْ أَرَادَ بِكُمْ سُوٓءًا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً ۚ
وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿١٧﴾

وواېه: که الله تعالی درته د زیان او ضرر( او د مال او اولاد د هلاکت ) او یا رحمت ( او پراخ رزق او سوکالۍ) اراده وکړي، څوک به درنه ( د الهی مقدراتو) مخه ونیسی؟ بلکه له الله تعالی نه غیر، نه کوم کار جوړوونکی موندلی شی او نه مرستندوی.

۞ قَدْ يَعْلَمُ ٱللَّهُ ٱلْمُعَوِّقِينَ مِنكُمْ وَٱلْقَآئِلِينَ لِإِخْوَٰنِهِمْ هَلُمَّ إِلَيْنَا ۖ وَلَا يَأْتُونَ
ٱلْبَأْسَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٨﴾

یقیناً الله تعالی ستاسو په منځ کې هغه منع کوونکی ډیر ښه پیژنی( چې په ډول ډول وسوسو او چلوتو، مجاهدین له جهاد نه راستنوی) او هغه کسان هم پیژنی چې خپلو( ضعیف الایمان) ورونو ته وایی: راځئ (د عیش او مزو چرچو لپاره) زموږ سره ملګری شئ( او په جهاد کې برخه مه اخلئ). دا کسان ډیر لږ او کله کله د جهاد کرښو ته راځی( هغه هم د ریا او ځان ښودنې او یا هم د مجاهدینو د روحیې او مورال د کمزوری کولو لپاره).

أَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ۖ فَإِذَا جَآءَ ٱلْخَوْفُ رَأَيْتَهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ تَدُورُ أَعْيُنُهُمْ
كَٱلَّذِى يُغْشَىٰ عَلَيْهِ مِنَ ٱلْمَوْتِ ۖ فَإِذَا ذَهَبَ ٱلْخَوْفُ سَلَقُوكُم بِأَلْسِنَةٍ
حِدَادٍ أَشِحَّةً عَلَى ٱلْخَيْرِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ لَمْ يُؤْمِنُوا۟ فَأَحْبَطَ ٱللَّهُ أَعْمَٰلَهُمْ ۚ
وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴿١٩﴾

دوی په داسې حال کې چې ستاسو لپاره( په خیر رسولو کې) ډیر بخیل دی، کله چې (د جګړې د تودیدو) ویره پیدا شی نو به یې وینې چې تا ته ګوری خو سترګې یې داسې چورلی لکه چې سا یې وځی، بیا چې ویره ورکه شی( او د غنیمتونو د راټولولو وخت راشی) نو پخپلو تیزو تیرو ژبو به د خپلې میرانې( درواغجنې) قیصې کوی او غنیمتونه به درنه د خپل حق په توګه غواړی. دغه( د جګړې ګیدړان او د ولجې زمریان ) د حقیقی ایمان له نعمته بې برخې دی او الله تعالی یې هم ټول اعمال ضایع او بابیزه کړی دی، او دغه کار الله تعالی ته ډیر آسان دی.

يَحْسَبُونَ ٱلْأَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُوا۟ ۖ وَإِن يَأْتِ ٱلْأَحْزَابُ يَوَدُّوا۟ لَوْ أَنَّهُم
بَادُونَ فِى ٱلْأَعْرَابِ يَسْـَٔلُونَ عَنْ أَنۢبَآئِكُمْ ۖ وَلَوْ كَانُوا۟ فِيكُم
مَّا قَٰتَلُوٓا۟ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٢٠﴾

( د كفارو لښكرې ناكامې بيرته ستنې شوى خو دغه بزدل منافقين) لا هم فكر كوى چې كافران مات شوى نه دى او كه بيرته راوګرځى( او په مؤمنانو حمله وكړى) نو كاش دوى چيرې په ليرې پرتو كليو بانډو كې له كوچى اعرابو سره وى او له هغه ځايه د مؤمنانو حال وګارى( او له تللو راتللو لارويانو نه د جګړې د كربښو د حال احوال پوښتنې وكړى). خو كه دغه منافقين ستاسو سره پاتې هم شى په جګړه كې به ډيره لږه برخه واخلى( هغه هم يوازې د شهرت او ريا لپاره).

لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِى رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ
ٱلْـَٔاخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾

بيشكه چې ستاسو لپاره د رسول الله په (خوى او اخلاقو، معاملاتو، خوراک څښاک، عباداتو، صبر، ثبات او استقامت) كې د اقتدا او متابعت ډير ښه درسونه پراته دى، د هغو مؤمنانو لپاره چې د الله تعالى( د رضا او ملاقات) او آخرت( د اجر او ثواب) هيله من دى، او زيات وخت په الهى ذكر كې مصروف دى.

وَلَمَّا رَءَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْأَحْزَابَ قَالُوا۟ هَٰذَا مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَصَدَقَ
ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ ۚ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّآ إِيمَٰنًا وَتَسْلِيمًا ﴿٢٢﴾

كله چه مؤمنانو( د خندق په غزا كې) د دښمن قواوى وليدې، ويې ويل: دا هغه څه دى چې الله تعالى او رسول يې زمونږ سره وعده كړې وه( او راته يې فرمايلى يې وو، چې د آخرت عظيم اجر او ثواب د سختيو او كړاوونو د زغملو او ازميښتونو د كاميابۍ نه غير لاسته نشى درتلى). بيشكه چې الله تعالى او رسول يې رښتيا فرمايلى او( د خندق غزا) د دوى د ايمان او الله تعالى ته د قربت جذبه او احساس لا نور هم پياوړى كړ.

مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا۟ مَا عَٰهَدُوا۟ ٱللَّهَ عَلَيْهِ ۖ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ
نَحْبَهُۥ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوا۟ تَبْدِيلًا ﴿٢٣﴾

په مؤمنانو کې داسې شخصیتونه شته چې له الله تعالی سره یې پخپل عهد او پیمان( چې د حق د دفاع په لاره کې په ثبات او استقامت مبارزه او ځانی او مالی قربانی ده) په ربښتینې توګه وفا کړې، ځینو پکې خپلې وعدې سرته رسولی( او د شهادت لوړ مقام یې ترلاسه کړی) او ځینې نور( شهادت ته) په انتظار دی، او په عهد او پیمان کې یې هیڅ بدلون نه دی راوستی.

لِّيَجْزِيَ ٱللَّهُ ٱلصَّـٰدِقِينَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ ٱلْمُنَـٰفِقِينَ إِن شَآءَ
أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٢٤﴾

تر څو الله تعالی ربښتینو( مؤمنانو) ته د دوی د صداقت او ټینګ ایمان اجر او مکافات ورکړی، او که یې اراده وشی نو منافقین په عذاب اخته کړی، او یا یې توبه قبوله کړی، بې له شکه چې الله تعالی ببښونکی او مهربان ذات دی.

وَرَدَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوا۟ خَيْرًا ۚ وَكَفَى ٱللَّهُ ٱلْمُؤْمِنِينَ
ٱلْقِتَالَ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزًا ﴿٢٥﴾

او الله تعالی( د پربښتو په وسیله او د سختې سیلۍ په را الوزولو سره د خندق په جګړه کې ګډون کوونکی کافران) بې له دې چې کوم بری یا ولجه تر لاسه کړی (ذلیل او ناکام او په داسې حال کې) چې له غم او غصې نه یې غابښونه چیچل په شا وزغلول او له مؤمنانو سره د جګړې په ډګر کې د الله تعالی مرستې کفایت وکړ( او د مخامخ جګړې خطر له منځه لاړ). بیشکه چې الله تعالی( پخپلو ټولو اقداماتو) پیاوړی او برلاسه ذات دی.

وَأَنزَلَ ٱلَّذِينَ ظَـٰهَرُوهُم مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَـٰبِ مِن صَيَاصِيهِمْ
وَقَذَفَ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعْبَ فَرِيقًا تَقْتُلُونَ وَتَأْسِرُونَ فَرِيقًا ﴿٢٦﴾

او( دغه راز الله تعالی) د اهل کتابو هغه کسان( د بنی قریظه یهودیان چې د مدینی په ختیځ کې اوسیدل، او له مسلمانانو سره یې خپله د سولې معاهده ماته کړې او د احزاب په جګړه کې یې د دښمن له قواو سره لاس یو کړی و) د خپلو ټینګو کلاګانو څخه راوویستل او په زړونو یې ورله ویره او ترهه مسلط کړه، تر دې چې ځینې یې ستاسو په لاسو قتل او ځینې مو برمته کړل.

وَأَوْرَثَكُمْ أَرْضَهُمْ وَدِيَـٰرَهُمْ وَأَمْوَٰلَهُمْ وَأَرْضًا لَّمْ تَطَـُٔوهَا ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ
عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرًا ﴿٢٧﴾

او د هغوی ځمکې، کورونه او مالونه او( د بنی قریظه او خیبر) سیمه چې تر دغه وخته مو ورباندې قدم نه و ایښی، تاسو ته په میراث پاتې شول. بیشکه چې الله تعالی(په خپلو ټولو چارو او اقداماتو) د کامل قدرت لرونکی دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدۡنَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا
فَتَعَالَيۡنَ أُمَتِّعۡكُنَّ وَأُسَرِّحۡكُنَّ سَرَاحٗا جَمِيلٗا ٢٨

ای پیغمبره! خپلو بیبیانو ته ووایه که د دنیوی ژوند ځلا او ښکلا غواړئ، راشئ چې برخه مو درکړم او بیا مو په نیکه او احسنه توګه پریږدم.

وَإِن كُنتُنَّ تُرِدۡنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَ فَإِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ
لِلۡمُحۡسِنَٰتِ مِنكُنَّ أَجۡرًا عَظِيمٗا ٢٩

او که الله تعالی او رسول او د آخرت(اجر او ثواب او د جنت نعمتونه)غواړئ،نو الله تعالی په تاسو کې نیک عملو( میرمنو) ته تیار کړی دی.

يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ مَن يَأۡتِ مِنكُنَّ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖ يُضَٰعَفۡ لَهَا
ٱلۡعَذَابُ ضِعۡفَيۡنِۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٗا ٣٠

ای د پیغمبر میرمنو! که په تاسو کې کومه یوه( د پیغمبر د نافرمانۍ) د ناوړه عمل مرتکبه شی، نو( د نورو عامو ښځو په نسبت به) دوه چنده عذاب ورکړی شی او دغه کار الله تعالی ته ډیر اسان دی.

۞ وَمَن يَقۡنُتۡ مِنكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتَعۡمَلۡ صَٰلِحٗا نُّؤۡتِهَآ أَجۡرَهَا
مَرَّتَيۡنِ وَأَعۡتَدۡنَا لَهَا رِزۡقٗا كَرِيمٗا ٣١

او په تاسو کې چه کومه یوه د الله او رسول ښه اطاعت کوونکې او نیک عمله وی، مونږ به ورته( د نورو عامو ښځو په نسبت) دوه چنده اجر او ثواب ورکړو، او هم مو، ورته نیکه او غوره روزی ( په جنت کې) برابره کړی ده.

يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ لَسۡتُنَّ كَأَحَدٖ مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِنِ ٱتَّقَيۡتُنَّۚ فَلَا تَخۡضَعۡنَ
بِٱلۡقَوۡلِ فَيَطۡمَعَ ٱلَّذِي فِي قَلۡبِهِۦ مَرَضٞ وَقُلۡنَ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗا ٣٢

ای د پیغمبر میرمنو! تاسو( د منزلت او مقام له مخې) د نورو میرمنو په شان نه یئ( ځکه تاسو د بشریت د لاربنود او سیدالمرسلین د زوجیت لپاره د الله تعالی له لوری غوره شوی او د امهات المؤمنین لوړ امتیاز هم درکړی شوی دی) نو که تقوا او د الله تعالی ویره درسره وی( له نامحرمو نارینه و سره) په نرمۍ او زړه وړونکې لهجه خبرې مه کوئ، بلکه په ټینګه او جدی لهجه ورسره وغږیږئ، تر څو د هغو بد طینته کسانو میلان پیدا نشی چې په زړونو کې یې( د نفاق او بدکارۍ) مرض پروت دی.

وَقَرۡنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجۡنَ تَبَرُّجَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ ٱلۡأُولَىٰۖ وَأَقِمۡنَ
ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتِينَ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِعۡنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ إِنَّمَا يُرِيدُ
ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ
تَطۡهِيرٗا ٣٣

او پخپلو کورونو کې پاتې شئ او د جاهلیت د زمانې د ښځو په شان( په کوڅو او بازارونو کې) خپل سینګارونه خلکو ته مه ښکاروئ، او لمونځونه کوئ او زکاتونه ورکوئ او د الله تعالی او رسول اطاعت وکړئ. ای د نبوت کورنئ! بیشکه چې الله تعالی غواړی ستاسو زړونه او نفسونه له هر ډول ګناهونو څخه پاک او تصفیه،( او په قلبی او اخلاقی پاکۍ او باطنی تزکیه مو سمبال کړی تر څو په واقعی توګه له نورو عادی ښځو څخه فایقې او ممتازې شئ).

وَٱذۡكُرۡنَ مَا يُتۡلَىٰ فِي بُيُوتِكُنَّ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ
وَٱلۡحِكۡمَةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا ٣٤

او( ای د پیغمبر میرمنو!) د مبارک قرآن أیتونه او د نبوی سنت هغه احکام چې تاسو ته لوستل کیږی پخپل یاد او حافظه کې وساتئ( او نورو ته یې هم ورسوئ او د الله تعالی د عظیم احسان شکر په ځای کړئ چې تاسو ته یې د نبوت په متبرک کور کې لوړ مقام در کړی دی) بیشکه چې الله تعالی ډیر مهربان او پوه ذات دی.

إِنَّ ٱلْمُسْلِمِينَ وَٱلْمُسْلِمَٰتِ وَٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ
وَٱلْقَٰنِتِينَ وَٱلْقَٰنِتَٰتِ وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلصَّٰدِقَٰتِ وَٱلصَّٰبِرِينَ
وَٱلصَّٰبِرَٰتِ وَٱلْخَٰشِعِينَ وَٱلْخَٰشِعَٰتِ وَٱلْمُتَصَدِّقِينَ
وَٱلْمُتَصَدِّقَٰتِ وَٱلصَّٰٓئِمِينَ وَٱلصَّٰٓئِمَٰتِ وَٱلْحَٰفِظِينَ
فُرُوجَهُمْ وَٱلْحَٰفِظَٰتِ وَٱلذَّٰكِرِينَ ٱللَّهَ كَثِيرًا
وَٱلذَّٰكِرَٰتِ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا ﴿٣٥﴾

( ځينو ازواج مطهراتو ته دا انديښنه پيدا شوی وه چې په قرآن عظيم الشأن کې د نارينه و ذکر ډير راغلی او ښځې نه دي يادې شوی، او نورو نيکو او صالحو ښځو ته هم دا خيال پيدا شو چه په پورتنيو آيتونو کې د پيغمبر د کورنۍ يادونه وشوه خو د نورو ښځو د عباداتو ذکر نه دی راغلی. له همدې امله دا مبارک آيت نازل شو:) بې له شکه، د مسلمانو سړو او ښځو، مؤمنانو سړو او ښځو، اطاعت کوونکو سړو او ښځو، رښتيا ويونکو سړو او ښځو، صبر کوونکو سړو او ښځو، صدقه ورکوونکو سړو او ښځو، روژه نيوونکو سړو او ښځو، له جنسی کثافاتو نه ځان ساتونکو سړو او ښځو او د الله په زيات ذکر کې مصروفو سړو او ښځو ټولو لپاره، الله تعالی مغفرت او لوی اجر تيار کړی دی.

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ
ٱلْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًا مُّبِينًا ﴿٣٦﴾

او هيڅ يو مؤمن او مؤمنه دا حق او صلاحيت نه لری چې په کومه مسأله کې د الله او رسول د حکم په خلاف، پخپله خوښه فيصله وکړی، او څوک چې د الله او رسول له اوامرو سرغړونه وکړی په څرګنده ګمراهۍ کې تللی دی.

وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِىٓ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ
زَوْجَكَ وَٱتَّقِ ٱللَّهَ وَتُخْفِى فِى نَفْسِكَ مَا ٱللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى
ٱلنَّاسَ وَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَىٰهُ ۖ فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا
زَوَّجْنَٰكَهَا لِكَىْ لَا يَكُونَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِىٓ أَزْوَٰجِ أَدْعِيَآئِهِمْ
إِذَا قَضَوْا۟ مِنْهُنَّ وَطَرًا ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا ﴿٣٧﴾

( او یاد کړه هغه وخت) چې تا هغه( زید) ته چې الله تعالی( د اسلام) په نعمت سر لوړی کړی او تا هم وربانديې احسان کړی او( د غلامۍ له ځنځیرونو) دې آزاد کړی، وویل چې خپله میرمن دې( پخپل کور کې) وساته، له الله تعالی نه وویریږه ( او له هغې سره په مینه او تفاهم ژوند وکړه). او( ای پیغمبره! تا د هغه له مطلقه ښځې بی بی زینب سره د نکاح تړلو په باب الهی حکم) په زړه کې پټ ساته، خو الله تعالی هغه را ښکاره کاوه( او ته د دغې نکاح د مشروعیت په اعلان کې) له خلکو( جاهلانو او منافقینو) څخه ویریدې، خو الله تعالی ډیر حقدار دی چې باید ورڅخه وویریږې. نو کله چې زید له خپلې میرمنې څخه خپله اړتیا پوره کړه( او طلاق یې ورکړ) مونږ هغه ستا د نکاح لپاره غوره کړه، ترڅو مؤمنانو ته د خپلو ادعیاو( ځوی بللو) له طلاقو شویو ښځو سره په واده کولو کې خنډ او ممانعت له منځه لاړشی( او مشروع وګڼل شی)، بیشکه چې د الله تعالی حکم هرو مرو نافذالعمل دی.

مَّا كَانَ عَلَى ٱلنَّبِىِّ مِنْ حَرَجٍ فِيمَا فَرَضَ ٱللَّهُ لَهُۥ ۖ سُنَّةَ ٱللَّهِ فِى ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟
مِن قَبْلُ ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ قَدَرًا مَّقْدُورًا ﴿٣٨﴾

د پیغمبر لپاره په هغه چاره کې هیڅ حرج او وبال نشته چې الله تعالی ورته مقرر کړې ده. او د الله تعالی امر نافذ او مقدر دی.

ٱلَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَٰلَٰتِ ٱللَّهِ وَيَخْشَوْنَهُۥ وَلَا يَخْشَوْنَ أَحَدًا إِلَّا ٱللَّهَ ۗ
وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبًا ﴿٣٩﴾

(هو دا د الله تعالی کړنلاره ده) د هغو (انبیاو) لپاره چې الهی فرمانونه خلکو ته رسوی او د الله تعالی( له مقام او منزلت) نه ویریږی او له هغه نه غیر له هیچا ویره او ترهه نه لری، او د ټولو چارو د حساب کتاب لپاره یوازې الله تعالی کافی دی.

مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ﴿٤٠﴾

محمد( د زید بن ثابت په شمول) ستاسو د هیڅ کوم سړی( حقیقی) پلار نه دی بلکه د الله تعالی استازی او وروستی پیغمبر دی( نو هیچا ته د هغه د ځوی خطاب مه کوئ) او الله تعالی په ټولو چارو ډیر ښه پوه دی.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ﴿٤١﴾

ای د ایمان خاوندانو!په کثرت سره د الله تعالی ذکر کوئ( او احسان یې یادوئ چې ستاسو د هدایت لپاره یې یو عظیم الشأن پیغمبر رالیږلی دی) .

وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿٤٢﴾

او سبا بیگاه( په دوامداره توگه د الله تعالی) تسبیح ووایئ.

هُوَ ٱلَّذِى يُصَلِّى عَلَيْكُمْ وَمَلَـٰٓئِكَتُهُۥ لِيُخْرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَـٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ۚ وَكَانَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا ﴿٤٣﴾

هغه ذات چې په تاسو رحمت نازلوی او پرښتې یې( ستاسو لپاره د مغفرت دعاگانې کوی) تر څو تاسو( د کفر او جهالت) له تیارو څخه د( اسلام) رڼا ته راوباسی، او الله تعالی په مؤمنینو ډیر زیات رحم کوونکی ذات دی.

تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُۥ سَلَـٰمٌ ۚ وَأَعَدَّ لَهُمْ أَجْرًا كَرِيمًا ﴿٤٤﴾

( الله تعالی به)د ملاقات په ورځ، په دوی سلام  وایی ( پرښتې به هم ورباندې سلام وایی او مؤمنین به هم یو بل ته د دغې لویې بریا او فتحې مبارکی وایی ) او د دوی لپاره نیک اجر او ثواب تیار شوی دی.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ إِنَّآ أَرْسَلْنَـٰكَ شَـٰهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿٤٥﴾

ای پیغمبره ته مو( په دې امت) د گواه، (مؤمنینو ته د اخروی نیکمرغی او جنت)  د زیری ورکونکی( او کافرانو او مشرکانو ته  د کفر او شرک د دوام په صورت کې د اخروی ابدی عذاب)د اخطار ورکوونکی  پحیث تاکلی یې( تر څو په دنیا کې خلک د توحید لوری ته راوبلې او د محشر په ورځ هم پخپل امت گواهی ورکړې چې ستا حق دعوت ته یې لبیک ویلی که نه؟) .

وَدَاعِيًا إِلَى ٱللَّهِ بِإِذۡنِهِۦ وَسِرَاجًا مُّنِيرًا ٤٦

او( ته) د الله تعالی په امر( تدبیر، فضل او توفیق) د هغه لارې ته( د تولو بشری پرګنو د رابلني او لاربښووني لپاره) د روښنایي ورکوونکی ځلاند لمر حیثیت لرې( او ستا مبارک نورانی وجود او حق تبلیغ به د انسانی روح د آسمان له افق نه د کفر، شرک او جهالت تیارې ورکې،او د ابدی نیکمرغی او سوکالی لار به ورته روښانه کړی).

وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ بِأَنَّ لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ فَضۡلًا كَبِيرًا ٤٧

او مؤمنينو ته زيری ورکړه چې د الله تعالی له حضوره د هغوی لپاره ( په دنيا او آخرت کې ) لوی فضل( او نعمتونه مقرر او ثابت دی.

وَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَدَعۡ أَذَىٰهُمۡ وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ
وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ٤٨

او د کافرانو او منافقانو پيروی مه کوه او د ازار او اذيت پروا يې هم مه ساته، او په الله تعالی توکل کوه بيشکه چې ( د تولو چارو د سمون لپاره يوازې )الله تعالی کفايت کوی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَكَحۡتُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ثُمَّ طَلَّقۡتُمُوهُنَّ مِن قَبۡلِ
أَن تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمۡ عَلَيۡهِنَّ مِنۡ عِدَّةٖ تَعۡتَدُّونَهَاۖ فَمَتِّعُوهُنَّ
وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ٤٩

ای مؤمنانو! کله چه مؤمني ښځې په نکاح کړئ، او بيا اراده وکړئ چې له لاس وروړلو نه مخکې يې طلاقې کړئ، نو هغوی ستاسو لپاره د عدت د ورځو د شمير په پوره کولو مکلفې نه دی، هغوی ته ښه تحفه( او يا نيمه برخه مهر) ورکړئ او په احسنه توګه يې رخصت کړئ.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَحۡلَلۡنَا لَكَ أَزۡوَٰجَكَ ٱلَّٰتِيٓ ءَاتَيۡتَ أُجُورَهُنَّ وَمَا
مَلَكَتۡ يَمِينُكَ مِمَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَيۡكَ وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّٰتِكَ
وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَٰلَٰتِكَ ٱلَّٰتِي هَاجَرۡنَ مَعَكَ وَٱمۡرَأَةٗ مُّؤۡمِنَةً
إِن وَهَبَتۡ نَفۡسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنۡ أَرَادَ ٱلنَّبِيُّ أَن يَسۡتَنكِحَهَا خَالِصَةٗ لَّكَ
مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۗ قَدۡ عَلِمۡنَا مَا فَرَضۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ
وَمَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ لِكَيۡلَا يَكُونَ عَلَيۡكَ حَرَجٞۗ وَكَانَ
ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ٥٠

**ای پیغمبره! مونږ ستا لپاره هغه ښځې روا کړې چې مهر یې ورکړې، او هغه وینزې هم درته حلالې دی چې الله تعالی درته( په غزاګانو کې) په غنیمت درکړی، او( دغه راز) ستا د تره لوڼه، د ترور( عمې) لوڼه، د ماما لوڼه،د توړی( د مور د خور) لوڼه چې ستا سره یې هجرت کړی، او هغه مؤمنه ښځه هم چې پخپله خوښه ستا سره نکاح کول غواړی او ته هم ورسره موافقه ولرې( بې له مهره په نکاح اخستی شې) دا ستا لپاره یو فوق العاده الهی امتیاز دی،خو عامو مؤمنانو ته ( د بې مهره نکاح او په یوه وخت له څلورو نه د زیاتو ښځو د ساتلو) اجازه نشته. بیشکه مونږ په هغو مقرراتو، چې په مؤمنانو مو د دوی د میرمنو او وینزو لپاره ټاکلی دیر ښه پوهیږو.( له څلورو نه د زیاتو ښځو سره په نکاح کې) په تا هیڅ حرج نشته ( او باید خپل ځان مقصر، و نه ګڼې). یقیناً چې الله تعالی ښښونکی او رحم کوونکی ذات دی.**

۞ تُرْجِي مَن تَشَآءُ مِنْهُنَّ وَتُـْٔوِيٓ إِلَيْكَ مَن تَشَآءُۖ وَمَنِ ٱبْتَغَيْتَ مِمَّنْ
عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن تَقَرَّ أَعْيُنُهُنَّ وَلَا يَحْزَنَّ
وَيَرْضَيْنَ بِمَآ ءَاتَيْتَهُنَّ كُلُّهُنَّۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا فِي قُلُوبِكُمْۚ
وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَلِيمًا ﴿٥١﴾

د هرې ميرمنې نوبت چې غواړې ټال يې کړه او هره يوه چې غواړې له ځان سره يې ساتلی شې، او کومه يوه چې( په موقتی توګه دې) له ځانه جلا کړې، هم يې بيرته ځان ته راغوښتلی شې. تاته د اختيار درکولو دغه حکم د دوی د خوښۍ لپاره دی، تر څو يې غم او تشويش رفع او په هغه څه چې ته يې دوی ته ورکوی( او هغه تصميم چې ته يې د دوی د نوبت په باب نيسې) راضی وی( ځکه پوهيږی چې ستا تصميم په عدل او د وحې په بنسټ ولاړ دی) او الله تعالی ستاسو د زړونو په پټو اسرارو ښه پوه او زغم لرونکی ذات دی.

لَّا يَحِلُّ لَكَ ٱلنِّسَآءُ مِنۢ بَعْدُ وَلَآ أَن تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ أَزْوَٰجٍ وَلَوْ
أَعْجَبَكَ حُسْنُهُنَّ إِلَّا مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ
رَّقِيبًا ﴿٥٢﴾

( له دغو ښځو نه غير چې يادونه وشوه) وروسته له دې نورې ښځې تا ته روا، نه دی او درته اجازه نشته چې د دوی په ځای نورې ښځې واده کړې، که څه هم ښکلا يې ستا ډيره خوښه شی، البته په غنيمت کې لاسته درغلې وينزې درته روا دی او الله تعالی د ټولو چارو څارونکی دی( او تاسو څاری چې کوم احکام او حدود يې په ښه توګه تطبيق کيږی؟)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتَ ٱلنَّبِيِّ إِلَّآ أَن يُؤۡذَنَ لَكُمۡ
إِلَىٰ طَعَامٍ غَيۡرَ نَٰظِرِينَ إِنَىٰهُ وَلَٰكِنۡ إِذَا دُعِيتُمۡ فَٱدۡخُلُواْ فَإِذَا طَعِمۡتُمۡ
فَٱنتَشِرُواْ وَلَا مُسۡتَـٔۡنِسِينَ لِحَدِيثٍۚ إِنَّ ذَٰلِكُمۡ كَانَ يُؤۡذِي ٱلنَّبِيَّ
فَيَسۡتَحۡيِۦ مِنكُمۡۖ وَٱللَّهُ لَا يَسۡتَحۡيِۦ مِنَ ٱلۡحَقِّۚ وَإِذَا سَأَلۡتُمُوهُنَّ
مَتَٰعٗا فَسۡـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَآءِ حِجَابٖۚ ذَٰلِكُمۡ أَطۡهَرُ لِقُلُوبِكُمۡ
وَقُلُوبِهِنَّۚ وَمَا كَانَ لَكُمۡ أَن تُؤۡذُواْ رَسُولَ ٱللَّهِ وَلَآ أَن
تَنكِحُوٓاْ أَزۡوَٰجَهُۥ مِنۢ بَعۡدِهِۦٓ أَبَدًاۚ إِنَّ ذَٰلِكُمۡ كَانَ عِندَ ٱللَّهِ
عَظِيمًا ٥٣

**اى مؤمنانو! د پيغمبر كور ته د نابللو ميلمنو په حيث مه ننوزئ، كله چې د ډوډئ خوړلو لپاره بلنه دركړى شئ( په مناسب وخت ورشئ خو) پخلى ته سترګې مه نيسئ، او د ډوډئ خوړلو نه وروسته( بى له دې چې د خبرو اترو او اوږدو كيسو بنډارونه جوړ كړئ) ووځئ ځكه دغه كار پيغمبر زوروى خو له حيا نه درته څه نه وايى او الله تعالى د حق ويلو لپاره د چا پروا نه ساتى. او كه د پيغمبر له ميرمنو څخه څه متاع غواړئ نو د پردې او حجاب له شا يې ترې وغواړئ، دغه كار ستاسو او هغوى د زړونو د پاكوالى لپاره ډير غوره دى. او دا هم تاسو ته جايز نه ده چې پيغمبر وزوروئ، او له وفات نه وروسته يې هم له بيبيانو سره هيڅكله واده نشئ كولى. دغه كار د الله تعالى په وړاندې لويه ګناه ده.**

إِن تُبۡدُواْ شَيۡـًٔا أَوۡ تُخۡفُوهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٗا ٥٤

**كه تاسو( د رسول الله صلى الله عليه وسلم) په ضد كوم ناوړه پلان ولرئ او يا (د نبوت د كورنئ په باب) كوم ناوړه تصور وكړئ له الله تعالى نه يې پټولى نشئ (او سزا به يې ووينئ) ځكه الله تعالى) ستاسو په ټولو پټو او ښكاره چارو ډير ښه پوه دى.**

لَّا جُنَاحَ عَلَيۡهِنَّ فِيٓ ءَابَآئِهِنَّ وَلَآ أَبۡنَآئِهِنَّ وَلَآ إِخۡوَٰنِهِنَّ وَلَآ أَبۡنَآءِ إِخۡوَٰنِهِنَّ
وَلَآ أَبۡنَآءِ أَخَوَٰتِهِنَّ وَلَا نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُنَّۗ وَٱتَّقِينَ
ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدًا ﴿٥٥﴾

**د پیغمبر په بيبيانو باندې كومه ګناه نشته كه له خپلو پلرونو، ځامنو،ورونو، وريرونو، خورينو، خپلو ملګرو ښځو( د مؤمنانو له ميرمنو) وينځو او غلامانو څخه ستر او حجاب و نه کړی، او ای ښځو! له الله تعالی نه وويرېږی، ځکه هغه په ټولو کړنو ګواه دی( نو د پردې او حجاب حکم مراعات کړی او په ظاهر او باطن کې د الله تعالی د حدودو احترام وساتئ او تطبيق يې كړئ ).**

إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا ﴿٥٦﴾

**بيشكه چې الله تعالی او پرښتې يې په پيغمبر باندې درود وايي، نو ای مؤمنانو تاسو هم په هغه درود ووايئ، او څنګه چې لازمه ده( اوامرو ته يې) غاړه کيږدئ( د الله تعالی صلاة په پيغمبر باندې رحمت او ثنا ويل دی، د پرښتو درود د پيغمبر لپاره استغفار ويل، او د مؤمنانو درود پيغمبر ته دعا کول دی: اللهم صل على محمد و على آل محمد كما صليت على ابراهيم و على آل ابراهيم انک حميد مجيد. اللهم بارک على محمد و على آل محمد كما باركت على ابراهيم و على آل ابراهيم انک حميد مجيد).**

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَأَعَدَّ
لَهُمۡ عَذَابٗا مُّهِينٗا ﴿٥٧﴾

**هغه کسان چې الله تعالی او د هغه رسول ته ايذا (او تکليف) رسوی( د کفر، شرک او دهريت په لاره ځی، د الله تعالی حرام، حلال ګڼی او په حق دين او قرآن يې ټوکې او مسخرې کوی) الله تعالی ورباندې په دنيا او آخرت کې لعنت وايی او د هغوی لپاره سپکوونکی عذاب تيار شوی دی.**

وَٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ بِغَيۡرِ مَا ٱكۡتَسَبُواْ
فَقَدِ ٱحۡتَمَلُواْ بُهۡتَٰنٗا وَإِثۡمٗا مُّبِينٗا ﴿٥٨﴾

هغه کسان چې مؤمن (نارینه) او مؤمنې ښځې په ناکړی کار( ناکرده ګناه تورنوی او) تکلیف ورته رسوی، بې له شکه یې لوی تومت او لویه ګناه په غاړه اخستې ده.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَـٰبِيبِهِنَّ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٥٩﴾

ای پیغمبره! خپلو ببیبانو، لوڼو او د مؤمنانو میرمنو ته ووایه چې خپل پړونی په ځان راخواره کړی( تر څو یې بدن او سینګار او ګانه نامحرم کسان ونه وینی) په دغه کار سره به دوی( عفیفې او پاک لمنې) وپیژندل شی (او د فاسقانو او فاجرانو) له اذیت نه به په امن کې وی، بیشکه چې الله تعالی ښونکی او مهربان ذات دی.

۞ لَّئِن لَّمْ يَنتَهِ ٱلْمُنَـٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْمُرْجِفُونَ فِى ٱلْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَآ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٦٠﴾

که منافقان او هغه کسان چې زړونه یې( د فساد او بدکارۍ) په ناروغۍ اخته دی، او هغه ( یهودیان) چې په مدینه کې( د مسلمانانو په ضد) دروغجن او زهرجن افواهات خپروی،( له خپلو ناوړو اعمالو نه) لاس وانخلی، په خلاف به یې تاته د سختو اقداماتو حکم درکړو( تر څو یې له مدینې منورې وباسې او یایې په ضد وجنګیږې) بیا به دوی څه لږه موده ستا په ګاونډ کې پاتې شی.

مَّلْعُونِينَ ۖ أَيْنَمَا ثُقِفُوٓا۟ أُخِذُوا۟ وَقُتِّلُوا۟ تَقْتِيلًا ﴿٦١﴾

( خو هغه هم د الله تعالی له رحمته ) رټل شوی او ترټل شوی. چې هر چیرې ښکاره شی نیول کیږی به او بې دریغه وژل کیږی به.

سُنَّةَ ٱللَّهِ فِى ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلُ ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبْدِيلًا ﴿٦٢﴾

دا هغه الهی کړنلاره ده چې له دوی نه لا په پخوانیو( خاینانو) هم تطبیق شوې او هیڅ تغیر او تبدیل به پکې ونه وینې.

يَسۡـَٔلُكَ ٱلنَّاسُ عَنِ ٱلسَّاعَةِۖ قُلۡ إِنَّمَا عِلۡمُهَا عِندَ ٱللَّهِۚ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّ
ٱلسَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا ﴿٦٣﴾

( ای پیغمبره!) خلک درنه د قیامت( د نیتې) پوښتنه کوی، ورته ووایه د قیامت( د نیتې) علم یوازې له الله تعالی سره دی، او ته څه خبر یې؟ کیدی شی قیامت نږدې وی.

إِنَّ ٱللَّهَ لَعَنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمۡ سَعِيرًا ﴿٦٤﴾

بیشکه چې الله تعالی، کافران( او د قیامت د قیام منکرین) له خپل رحمته رټلی او لمبو وهونکی اور یې ورته تیار کړی دی.

خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ لَّا يَجِدُونَ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ﴿٦٥﴾

چې تل تر تله به پکې پراته وی او( د نجات لپاره به) هیڅ سرپرست او مرستندوی ونه مومی.

يَوۡمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمۡ فِي ٱلنَّارِ يَقُولُونَ يَٰلَيۡتَنَآ أَطَعۡنَا ٱللَّهَ وَأَطَعۡنَا
ٱلرَّسُولَا۠ ﴿٦٦﴾

هغه ورځ چې خپل مخونه به د دوزخ په اور کې یو خوا بل خوا اړوی رااړوی، او وایی به کاش مونږ په دنیا کې د الله او رسول اطاعت کړی وی.

وَقَالُواْ رَبَّنَآ إِنَّآ أَطَعۡنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَأَضَلُّونَا ٱلسَّبِيلَا۠ ﴿٦٧﴾

او وایی به ای ربه مونږ د خپلو سردارانو او مشرانو پیروی کوله چې همدوی له  مونږ نه د حق  لاره ورکه کړه.

رَبَّنَآ ءَاتِهِمۡ ضِعۡفَيۡنِ مِنَ ٱلۡعَذَابِ وَٱلۡعَنۡهُمۡ لَعۡنٗا كَبِيرٗا ﴿٦٨﴾

نو ای ربه هغوی په دوه چنده عذاب او لوی لعنت محکوم کړه.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ ءَاذَوۡاْ مُوسَىٰ فَبَرَّأَهُ ٱللَّهُ مِمَّا قَالُواْۚ

وَكَانَ عِندَ ٱللَّهِ وَجِيهٗا ﴿٦٩﴾

ای د ایمان خاوندانو؟ ( د خپل پیغمبر په باب د هغو کسانو تقلید مه کوئ) چې موسی ته يې تکليف او اذيت رساوه( او په تومت او دروغ ويلو يې تورناوه) خو الله تعالی د خلکو له تومتونو پاک او مبرا کړ، ځکه هغه د خپل رب په وړاندې يو مخور او عزتمند شخصيت و.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ﴿٧٠﴾

ای د ایمان خاوندانو! د الله تعالی( له عذابه) ووېرېږئ او حقه او مسلمه خبره کوئ.

يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ

فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا ﴿٧١﴾

تر څو مو عملونه اصلاح او گناهونه مو درته وبښي، او څوک چې د الله تعالی او رسول اطاعت وکړي، رښتيا چې لويه بريا يې په برخه شوې ده.

إِنَّا عَرَضۡنَا ٱلۡأَمَانَةَ عَلَى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱلۡجِبَالِ فَأَبَيۡنَ أَن

يَحۡمِلۡنَهَا وَأَشۡفَقۡنَ مِنۡهَا وَحَمَلَهَا ٱلۡإِنسَٰنُۖ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومٗا جَهُولٗا ﴿٧٢﴾

مونږ خپل امانت( خلافت، شرعی مکلفيتونه، فرايض او واجبات،آزادی، اختيارات او استعدادونه، خو د هغو د ښه تطبيق او استعمال ځواب ويل او مسئوليت يې منل) آسمانونو، ځمکې او غرونو ته وړاندې کړ، چې هغوی هر يو( له خپل لويوالی سره سره ورڅخه) انکار وکړ( او له حساب کتاب څخه يې) ووېرېدل، خو انسان يې منلو ته غاړه کيښوده( او له همدې امله ورته لوړ مقام ورکړی شو، نو هغه) انسان بې له شکه ظالم او ناپوه دی( چې خپل لوړ انسانی حيثيت او ارزښت نه پيژنی او د الهی امانت حق په سمه توگه نه اداء کوی).

لِّيُعَذِّبَ ٱللَّهُ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ

وَٱلۡمُشۡرِكَٰتِ وَيَتُوبَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِۗ وَكَانَ ٱللَّهُ

غَفُورٗا رَّحِيمَۢا ﴿٧٣﴾

( دغه د امانت سپارل د دې لپاره وو)ترڅو الله تعالی، منافقان نارینه او منافقې ښځې، او مشرکان نارینه او مشرکې ښځې( په امانت کې د خیانت له امله) عذاب کړی،( او د امانت په ساتلو کې د تیروتنو له امله ) د مؤمنانو نارینه و او مؤمنو ښځو توبه قبوله کړی. بیشکه چې الله تعالی ډیر زیات ښنونکی او مهربان ذات دی.

« تمت سورة الاحزاب بعون الله الملک الوهاب»

========================